شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۱۱۰۶ ګڼه / سه شنبه د محرم‌الحرام ۲۸مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ۲۳مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جولای ۱۴مه ۲۰۲۶ میلادي

د بهرنیو چارو وزیر له ایراني پلاوي سره د کونسلي همکاریو پر پراختیا خبرې وکړې

د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي په کونسلي چارو کې د ایران اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال، ښاغلي وحید جلال‌زاده سره کتلي دي.

په دې کتنه کې د افغانستان او ایران ترمنځ پر دوه اړخیزو اړیکو، اتباعو ته د کونسلي خدمتونو د لا ښه والي او د سرحدي همکاریو پر اړوندو موضوعاتو خبرې او د نظرونو تبادله وشوه.

ښاغلي متقي د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې مخ پر ودې وبللې او ټینګار یې وکړ، چې اتباعو ته د کونسلي خدمتونو ... ۳مخ

اقتصادي معاونیت په ارزګان کې د باروړونکو موټرو د معیاري ترمینل د جوړېدو پروژه منظوره کړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت، د ۶۵ میلیونو افغانیو په لګښت ارزګان کې د باروړونکو موټرو لپاره د معیاري ترمینل د جوړولو چارو خبر ورکړی دی. د سرچینې د معلوماتو له مخې؛ د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ، د تدارکاتو کمېسیون په وروستۍ غونډه کې د یو شمېر نورو پراختیایي پروژو ترڅنګ؛ په ارزګان کې د باروړونکو موټرو لپاره د معیاري ترمینل د جوړولو پروژه هم منظوره شوې ده. دغه ترمینل به د ځمکني ټرانسپورټ له منل شویو معیارونو سره سم، پر ۲۰۰ جریبه ځمکه جوړ شي، چې په یوه وخت کې به د لسګونو باروړونکو لویو موټرو د ځایپرځای کېدو ظرفیت ولري.

د دې پروژې لګښت ۶۵ میلیونه افغانۍ اټکل شوی، چې... ۳مخ

تأکید بر توسعه روابط دوجانبه میان افغانستان و اندونیزیا

مولوی سعدالله بلوچ، سرپرست سفارت امارت اسلامی افغانستان در جاکارتا با آقای محمد تقدیر، رئیس ستراتیژی پالیسی خارجی وزارت امور خارجهٔ اندونیزیا دیدار و گفتگو نمود. در این دیدار، دو طرف پیرامون راه‌های تقویت و گسترش روابط دوجانبه بین افغانستان و اندونیزیا، توسعهٔ همکاری‌های سیاسی و تحقیقاتی و تبادل افکار... ص۳

بلخ کې د نفتي توکو د کیفیت ارزونې معیاري لابراتوار جوړ او فعال شو

په بلخ ولایت کې د خصوصي سکتور له لورې د شاوخوا یو میلیون ډالرو په لګښت د نفتي توکو د کیفیت ارزونې یو پرمختللی لابراتوار جوړ او فعال شوی دی.

د مسئولینو په وینا، دغه مرکز په ۳۶ پرمختللو وسایلو سمبال دی او د نړیوالو معیارونو له مخې د بېلابېلو نفتي توکو کیفیت ارزوي.

چارواکو ویلي: د دې لابراتوار په فعالېدو سره به د ټیټ کیفیت لرونکو نفتي توکو د وارداتو مخه ونیول شي او د بهرنیو لابراتوارونو اړتیا به کمه شي.

په دغه مرکز کې د پټرولو،... ۳مخ

د لوړو زده کړو وزیر د دیني جامعاتو او تخصصاتو ریاست چارې وارزولې

د لوړو زده کړو وزیر شیخ الحدیث مولوي نداء محمد ندیم د دیني جامعاتو او تخصصاتو عمومي ریاست له مسئولینو او منسوبینو سره کتلي دي.

په یاده غونډه کې ښاغلي ندیم د دیني جامعاتو او تخصصاتو عمومي ریاست د چارو ارزونې تر څنګ، د مسئولینو او منسوبینو لاسته راوړنې او ستونزې له نږدې واورېدې او ورته یې لازمې توصیې وکړې.

شیخ صاحب د یاد ریاست کارکوونکي خپلو مسئولیتونو ته لا متوجه کړل او ورته ویې ویل، چې په کارونو کې له غفلت څخه ډډه او له مراجعینو سره ښه چلند وکړي او کارونه یې په خپل وخت سره خلاص کړي. ۳مخ

د افغانستان د پانګونې او سوداګرۍ فرصتونو ته د روسي او قزاقستاني پانګوالو لېوالتیا

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې مشر سید کریم هاشمي د روسیې او قزاقستان له ګډ سوداګریز پلاوي سره په لیدنه کې د سوداګریزو، اقتصادي او پانګې اچونې د همکاریو د پراختیا په اړه خبرې کړې دي. نوموړي د افغانستان د کانونو، کرنې او صادراتي ظرفیتونو په اړه ... ۳مخ

سرمقاله

له پاکستان څخه د افغان کډوالو د ډله‌ییزې اېستنې تر شا پټ راز څه دی؟

د نړۍ په معاصر تاریخ کې د کډوالو موضوع یوازې یوه بشري مسئله نه ده، بلکې تل د هېوادونو د سیاسي، امنیتي او اقتصادي سیاستونو له مهمو محورونو څخه ګڼل شوې ده. هر هغه وخت، چې حکومتونه له کورنیو ستونزو، سیاسي فشارونو او اقتصادي کړکېچونو سره مخ شوي، د کډوالو موضوع یې د لنډمهالو موخو لپاره د فشار د وسیلې په توګه کارولې ده. له بده مرغه، پاکستان هم په وروستیو کلونو کې همدا تګلاره خپله کړې او د میلیونونو افغان کډوالو برخلیک یې له سیاسي او امنیتي محاسبو سره تړلی دی.

په دې وروستیو کې د پاکستاني رژیم حکومت د افغان کډوالو د ډله‌ییزې اېستنې بهیر چټک کړی او زرګونه افغانان یې د نیولو، توقیف او جبري اېستلو له ګواښ سره مخ کړي دي. که څه هم پاکستان دغه پرېکړه د بې‌اسنادو کډوالو پر وړاندې د قانون د پلي کېدو په نامه توجیه کوي، خو د پېښو تسلسل او د چارواکو څرګندونې ښیي، چې د دې اقدام تر شا یوازې د قانون د تطبیق موضوع نه، بلکې پراخ امنیتي، سیاسي او اقتصادي اهداف هم پراته دي.

پاکستان له اوږدې مودې راهیسې هڅه کوي چې د خپلو امنیتي ناکامیو پړه پر افغانستان واچوي. د پاکستاني رژیم د حکومتي چارواکو هغه ادعاوې، چې ګواکې د تحریک طالبان پاکستان یا «ټي ټي پي» غړي په افغانستان کې پټنځایونه لري، له کلونو راهیسې تکرارېږي؛ خو اسلامي امارت په ځلونو روښانه کړې، چې د افغانستان خاوره به هېڅکله د بل هېواد پر ضد ونه کارول شي او هېچا ته به د هېواد له خاورې د ګاونډیو پر ضد د فعالیت اجازه ور نه کړي. د اسلامي امارت دغه څرګند دریځ د افغانستان د متوازن بهرني سیاست او د ښه ګاونډیتوب د اصل څرګندونه کوي.

سره له دغو تورونو پاکستان لا هم هڅه کوي د امنیتي اندېښنو تر نامه لاندې نړیوال افکار قانع کړي، ترڅو د خپلو کورنیو ستونزو پړه پر افغانستان واچوي. حال دا چې د پاکستان اوسني امنیتي او سیاسي بحرانونه تر ډېره د همدغه هېواد د کلونو ناسمو کورنیو او سیمه‌ییزو سیاستونو پایله ده، نه د افغان کډوالو شتون. له بلې خوا، پاکستان له سخت اقتصادي بحران، ... ۳مخ

جلال‌اباد کې د کورنیو تولیداتو او کرنیزو محصولاتو نندارتون پرانیستل شو

د ننګرهار ولایت د مرکز جلال‌اباد ښار په پارک هوټل کې د کورنیو تولیداتو او کرنیزو محصولاتو نندارتون پرانیستل شو.

د یاد ولایت د صنعت او سوداګرۍ رئیس سید عبدالبصیر پاچا ویلي چې دغه نندارتون د کورنیو تولیداتو د ودې، د کرنیزو محصولاتو د بازارموندنې او د سوداګرو او تولیدوونکو ترمنځ د اړیکو...۳مخ

غلام خان بندر کې د ستر جومات د جوړولو چارې پیل شوې

د خوست ولایت د ارشاد، حج او اوقافو ریاست مطبوعاتي مسئول سعید بلال ویلي، چې د ګربزو ولسوالۍ اړوند په غلام خان بندر کې د یوه لوی جومات د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

نوموړي وایي: یاد جومات د ارشاد، حج او اوقافو وزارت له بودجې د ۱۰ میلیونه ۸۱۹ زره افغانیو په لګښت جوړېږي.

سرچینې زیاته کړې، چې دغه جومات په دوو پوړونو کې پر شاوخوا ۴۸۰ متره مربع ځمکه جوړېږي، چې ټولې اړینې برخې به ولري او په یوه وخت کې به نږدې د ۸۰۰ کسانو د ځایولو ظرفیت ولري.

افزایش چشمگیر حاصلات گندم در زابل

گندم از مهمترین محصولات زراعتی ولایت زابل به شمار می‌رود که در سال‌های اخیر میزان کشت و حاصلات آن به‌گونه چشمگیری افزایش یافته است.

ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت زابل می‌گوید که حاصلات گندم در این ولایت، نسبت به سال گذشته افزایش یافته است.

مولوی نقیب‌الله نجات آمر ترویج ریاست زراعت، آبیاری و مالداری زابل گفت که امسال در... ص۳

حریق ۱۲ تُن مواد خوراکی و دوای تاریخ‌گذشته در ارزگان

وزارت صحت عامه اعلام کرده که ۱۲ تُن مواد خوراکی و داروی تاریخ‌گذشته و بی‌کیفیت در ارزگان جمع‌آوری و از بین برده شده است.

این وزارت در خبرنامه‌ای گفته که این مواد در جریان چهار ماه گذشته از شهر ترینکوت، مرکز ارزگان، جمع‌آوری شده بود.

وزارت صحت عامه، پیش... ص۳

بسته‌بودن مسیرهای تجارتی با افغانستان، صادرات ام پاکستان را کاهش داده است

روزنامه «دان» رژیم پاکستان گزارش داده است که کاهش صادرات و پیامدهای ناشی از تغییرات اقلیمی، باغداران ام در این کشور را با خسارات مالی گسترده مواجه کرده و آینده این صنعت را با ... ص۳

پکتیکا کې د ۹.۱ میلیونو افغانیو په لګښت د اوبو لګولو پروژې بشپړې شوې

د پکتیکا ولایت په جاني خېلو ولسوالۍ کې د خوړو نړیوال پروګرام په مالي ملاتړ د اوبو لګولو یو شمېر پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د یاد ولایت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رئیس مولوي لعل محمد ګوهر د یادو پروژو د ګټې اخیستنې په مراسمو کې وویل، چې په دغو پروژو کې د اوبولګولو حوض، ۵۰۰ متره سنګکاري شوی کانال، یو ۱۲ متره ترناب او دوه پلچکونه شامل دي، چې د خوړو نړیوال پروګرام په مالي ملاتړ د ۹.۱ میلیونو افغانیو په لګښت په پاخه او اساسي ډول جوړ شوي دي. د نوموړي په وینا، د دغو پروژو په بشپړېدو سره سلګونه جریبه ځمکې ته د خړوبېدو اوبه برابرې شوې دي.

خاورمیانه در برابر موج تازه تنش میان ایران و امریکا قرار گرفته است

فداءالحق

خاورمیانه بار دیگر شاهد تحولات پیچیده و حساسیست که می‌توانـد پیامدهای گسترده‌ای برای امنیت منطقه، ثبات سیاسی، اقتصاد جهانی و آینده روابط میان قدرت‌های بزرگ داشته باشد. در روزهای اخیر، تنش‌های سیاسی، امنیتی و لفظی میان جمهوری اسلامی ایران و ایالات متحده امریکا افزایش یافته و مواضع دو طرف نشان می‌دهد که روابط تهران و واشنگتن بار دیگر وارد مرحله پرتنش و حساس شده است.

تهدیدهای متقابل نظامی، اختلافات ادامه‌دار بر سر برنامه هسته‌ای ایران، نگرانی‌ها درباره امنیت تنگه هرمز و نبود اعتماد میان دو کشور از جمله عواملیست که فضای موجود را پیچیده‌تر ساخته است. بسیاری از ناظران امور بین‌المللی باور دارند که ادامه این وضعیت می‌تواند خطر رویارویی گسترده‌تر را افزایش دهد و پیامدهای آن تنها به دو کشور محدود نخواهد ماند، بلکه می‌تواند امنیت و ثبات سراسر منطقه را تحت تأثیر قرار دهد.

روابط ایران و امریکا در چند دهه گذشته همواره با اختلافات عمیق سیاسی، امنیتی و راهبردی همراه بوده است. از موضوع برنامه هسته‌ای ایران گرفته تا تحریم‌های اقتصادی، حضور نظامی امریکا در منطقه و اختلاف نظرها درباره سیاست‌های منطقه‌ای، همه از عواملی بوده‌اند که فاصله میان دو کشور را افزایش داده‌است. با وجود تلاش‌های مقطعی برای گفتگو و کاهش تنش، نبود اعتماد متقابل باعث شده است که هر بحران تازه بتواند روابط دو طرف را دوباره به مرحله تقابل بازگرداند.

دونالد ترامپ رئیس‌جمهور ایالات متحده امریکا در اظهارات اخیر خود هشدارهای شدیدی علیه ایران مطرح کرده و گفته است که اگر هرگونه تلاش برای آسیب رساندن به وی یا مقام‌های ارشد امریکایی صورت گیرد، واشنگتن با واکنش گسترده و شدید نظامی پاسخ خواهد داد. او تأکید کرده است که امریکا برای دفاع از امنیت ملی خود و حفاظت از مسئولان این کشور از تمام امکانات موجود استفاده خواهد کرد و نیروهای نظامی این کشور آمادگی لازم برای پاسخ به هرگونه تهدید را دارند.

این سخنان در شرایطی مطرح می‌شود که روابط تهران و واشنگتن در فضای بی‌اعتمادی شدید قرار دارد. تحلیلگران سیاسی معتقدند که افزایش اظهارات تهدیدآمیز از سوی هر دو طرف، می‌تواند فرصت‌های دیپلوماتیک را محدودتر ساخته و زمینه را برای افزایش فشارهای سیاسی و امنیتی فراهم کند. به باور آنان، زمانی که زبان تهدید جای گفتگو را بگیرد، احتمال اشتباه در محاسبات سیاسی و نظامی نیز بیشتر می‌شود.

در سوی دیگر، موضوع امنیت تنگه هرمز به یکی از محورهای اصلی نگرانی‌های امریکا و جامعه جهانی تبدیل شده است. مقام‌های امریکایی از ایران خواسته‌اند که درباره باز ماندن این مسیر مهم دریایی و جلوگیری از هرگونه اقدام علیه کشتی‌های تجاری و نفتکش‌های بین‌المللی، موضع روشن و تضمین‌های مشخص ارائه کنند.

تنگه هرمز یکی از مهمترین گذرگاه‌های دریایی جهان به شمار می‌رود که نقش حیاتی در انتقال انرژی از کشورهای حوزه خلیج فارس به بازارهای جهانی دارد. بخش بزرگی از صادرات نفت و گاز منطقه از این مسیر عبور می‌کند و هرگونه ناامنی یا درگیری نظامی در این منطقه می‌تواند تأثیر مستقیم بر بازارهای جهانی انرژی، قیمت نفت، هزینه‌های حمل‌ونقل و اقتصاد کشورهای مختلف داشته باشد.

به همین دلیل، امنیت تنگه هرمز تنها یک موضوع منطقه‌ای نیست، بلکه مسئله‌ای با ابعاد جهانی محسوب می‌شود. هرگونه اختلال در فعالیت این مسیر دریایی می‌تواند زنجیره‌ای از پیامدهای اقتصادی و سیاسی را در سطح بین‌المللی به دنبال داشته باشد. از همین رو، کشورهای مختلف همواره بر ضرورت حفظ امنیت این آبراه مهم و جلوگیری از افزایش تنش‌ها تأکید کرده‌اند.

در همین حال، مقام‌های ایرانی نیز بر مواضع خود در برابر امریکا تأکید کرده‌اند. عباس عراقچی وزیر امور خارجه ایران، واشنگتن را به عملی نکردن تعهدات گذشته متهم کرده و گفته است که تهران به تعهدات خود پابند بوده، اما امریکا در اجرای تعهدات خود کوتاهی کرده است. او تأکید کرده است که هرگونه توافق جدید میان دو کشور تنها زمانی می‌تواند دوامدار و عملی باشد که هر دو طرف به شکل متقابل به تعهدات خود عمل کنند.

از دید مقام‌های ایرانی، مشکل اساسی در روابط دو کشور تنها اختلاف بر سر یک موضوع مشخص نیست، بلکه بی‌اعتمادی عمیقی است که در طول سال‌ها ایجاد شده است. تهران بارها اعلام کرده است که بدون تضمین‌های عملی و تغییر در رویکرد واشنگتن، بازگشت به مذاکرات دشوار خواهد بود.

در همین چارچوب، برخی گزارش‌ها نشان می‌دهد که ایران تا زمانی که تغییر مشخصی در سیاست‌های امریکا مشاهده نکند، تمایل چندانی برای آغاز مذاکرات تازه ندارد. این موضع بیانگر آن است که فاصله سیاسی میان دو کشور همچنان گسترده است و برای بازسازی اعتماد، اقدامات عملی و دیپلوماتیک بیشتری نیاز خواهد بود.

با این حال، بسیاری از تحلیلگران بین‌المللی باور دارند که ادامه تنش میان ایران و امریکا نه به سود هیچ‌یک از طرف‌هاست و نه برای امنیت منطقه مفید خواهد بود. آنان تأکید می‌کنند که راه حل پایدار برای اختلافات موجود، تنها از مسیر گفتگو، دیپلوماسی و ایجاد سازوکارهای اعتمادسازی امکان‌پذیر است.

ادامه رویارویی میان تهران و واشنگتن می‌تواند پیامدهای گسترده‌ای برای خاورمیانه داشته باشد. کشورهای منطقه که سال‌ها با بحران‌های امنیتی، جنگ‌ها و بی‌ثباتی سیاسی مواجه بوده‌اند، اکنون نگران آن هستند که افزایش تنش میان دو قدرت بزرگ، وضعیت امنیتی منطقه را دشوارتر خواهد ساخت.

از سوی دیگر، بازارهای جهانی نیز نسبت به تحولات مربوط به ایران و امریکا حساسیت زیادی نشان می‌دهند. هرگونه درگیری یا تهدید جدی در منطقه خلیج فارس می‌تواند بر عرضه انرژی، تجارت جهانی و روند اقتصادی کشورهای مختلف تأثیر بگذارد. به همین دلیل، بحران میان تهران و واشنگتن تنها یک اختلاف دوجانبه نیست، بلکه موضوعیست که جامعه جهانی را نیز درگیر می‌سازد.

در مجموع، تحولات اخیر نشان می‌دهد که روابط ایران و امریکا بار دیگر وارد مرحله حساس و پرتنش شده است. تهدیدهای نظامی، اختلافات هسته‌ای، بحران اعتماد و نگرانی درباره امنیت تنگه هرمز، مجموعه‌ای از عوامل را ایجاد کرده‌است که آینده روابط دو کشور را با ابهام روبه‌رو ساخته است.

با وجود اختلافات عمیق میان تهران و واشنگتن، بسیاری از ناظران معتقدند که جلوگیری از گسترش بحران نیازمند مسئولیت‌پذیری سیاسی، کاهش ادبیات تهدیدآمیز و باز نگهداشتن مسیرهای دیپلوماتیک است. قابل یادآوریست که؛ استفاده از ظرفیت کشورهای میانجی، رعایت اصول حقوق بین‌الملل و تلاش برای حل مسالمت‌آمیز اختلافات می‌تواند از تبدیل شدن تنش‌های موجود به یک بحران بزرگتر جلوگیری کند.

نشنلیزم باید وپېژنو

ترتیب او زیاتونه: محمدمنیر محصل / څلورمه برخه

نشنلستان ولې له اسلام څخه وېره لري؟:

ځکه وېره لري، که چېرې مسلمانان سره متحد شي او د اسلامي نظام لپاره کار وکړي، یقیناً چې له هغو نه یو قوت جوړېږي او یو ډېر پیاوړی حکومت تشکیلوي او تېر برم ته په ډېره ښه توګه رسېدلی شي او یو ځل بیا په نړۍ کې د عزت او شرف مقام ګټلی شي. که مسلمانان د اسلام لپاره کار وکړي، په هغه صورت کې به یو داسې ستر او هر اړخیز پیوستون رامنځته کړي، چې له مراکش نه تر تونسه، له الجزایر او لیبیا څخه د نیل تر درې او له فلسطین څخه د لبنان او اردن تر ختیځ پورې او تر عراق، حجاز، یمن، ایران، ترکیې، افغانستان او اندونیزیا پورې به ټول مسلمانان سره یو شي او داسې یوه قوي کتله به جوړه کړي، چې هېڅ استعمارګر به ورته په کږه سترګه نه شي کتلی.

نشنلستان په دې وېرېږي، که مسلمانان د خپلې عقیدې لپاره مخلصانه کار وکړي او ځوانان یې د اسلام پر مزایاوو خبر شي، بیا هېڅ پوله او بېلوونکې کرښه د دوی په منځ کې خنډ نه شي جوړولی او نه رنګ، نسل او ژبه د دوی یووالي ته صدمه رسولی شي، بلکې د دوی پیوستون به د عقیدې په لحاظ وي، نه د مادیاتو، قوم، نسل او یا هم د ژبې په لحاظ.

که مسلمانان داسې مثبت اقدام وکړي، د قدرت او واکمنۍ چاپېریال به یې ډېر ژر پراخ او نفوذ به یې د نړیوالو په منځ کې ګړندی شي، تر دې چې لوی خدای به د ځمکې واکمنۍ وروسپاري.

پورته خبرې یوازې یو خیال پلو نه دی، چې زموږ په ذهنونو کې ګرځي، بلکې؛ دا هغه روښانه حقیقت دی، چې نړیوال ورباندې په ښکاره اعتراف کوي او د نړۍ لوستی او پوه قشر په دې خبره شاهدي ورکوي، چې په نړۍ کې یوازنی تلپاتې ژوند دود اسلام دی، چې د نړیوالو چارې سمبالولی او سمولی شي. د هر دور پوهانو د اسلام او اسلامي شریعت پر حقانیت اعتراف کړی، چې د قانون په جوړولو کې بغیر له اسلام څخه بله لاره چاره نشته چې ورڅخه استفاده وشي.

د قران له نزول او د اسلامي شریعت له نفاذ څخه تر اوسه هېڅوک او د هېڅ مسلک او منهج والا نه دي پیدا شوي، چې له اسلام سره دې سیالي وکړي. نړیوال که د مساواتو او برابرۍ نعرې وهي او که د حریت او ازادۍ نعرې وهي او که د شورا، عدل او انصاف نعرې وهي، دا ټولې په اسلام کې دي، نه په قوم پرستۍ او نورو ګمراه کوونکو لارو کې.

که موږ نورو ادیانو او قوانینو ته وګورو، نو د خلکو رهبري تر ډېرې کمې فاصلې او مودې پورې کولی شي، خو دغه ستر اعزاز یوازې الله تعالی اسلام ته ورکړی، چې د انسانیت لارښوونه په هر حالت او ټول عمر کې کولی شي او آن له مرګ څخه وروسته یې هم لارښوونه کوي. هېڅ داسې لحظه او شبېه نشته، چې اسلام دې د انسان لارښوونه پکې نه وي کړې او هېڅ داسې معامله نشته چې په اسلام کې دې وصول ونه لري. یوازې اسلام دی، چې د بشریت امنیت تضمینولی شي او بس.

یوه خبره چې ډېره ضرور ده او د همدې موضوع په اړوند کېږي، باید تشریح شي، هغه دا ده:

د مسلمان په ژوند کې د عقیدې انځور (مهم والی):

کله چې اسلام راغی او قرآن رانازل شو او خلکو وربانـدې ایمان راوړ، یوه داسې ټولنه یې جوړه کړه، چې نړۍ یې مثال نه شي وړاندې کولی. هغه ټولې بدمرغۍ چې له اسلام څخه مخکې وې، له منځه ولاړې او د خلکو په منځ کې وحدت قایم شو او د وحدت وجه دا وه، چې مسلمانانو له اسلامي عقیدې نه په پوره اخلاص پیروي کوله او له دې عقیدې څخه د دفاع په خاطر یې له هېڅ سرښندنې دریغ نه کاوه او نه یې د دې عقیدې د پراختیا په برخه کې سستي او تمبلي کوله، ځکه همدغه عقیده وه چې دوی یې له قوم پرستۍ او تنګ نظرۍ څخه راواېستل او پر ټوله نړۍ باندې یې واکمن کړل. همدغه عقیده وه چې انسان ته یې خپل کرامت وروپېژانده او د توحید درس یې ورکړ او همدارنګه، بشریت ته یې د مدنیت، اجتماعیت او سوله ییز ژوند طریقې وروښودلې او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې یې د علم ډېوې بلې کړې.

د زمانې پر ټنده یې د حریت، عدالت او برابرۍ اصول انځور کړل او خلک یې د خلکو له عبادت نه د یو الله عبادت ته راوبلل او د دنیا له تنګونه یې د دنیا وسعت ته راواېستل او د مختلفو ادیانو له کړاوونو نه یې د اسلام مبارک او له عدل څخه ډک دین ته داخل کړل. د اسلام له ظهور څخه وروسته د مسلمانانو اسلامي حکومت جوړ شو، واکمني یې تر لاسه کړه او د نړۍ قیادت او زعامت یې په برخه شو. رسول الله صلی الله علیه وسلم لا له دې فاني نړۍ څخه سترګې نه وې پټې کړې، چې د اسلام مبارک دین د عربو په ټاپووزمه کې خپور شو او یمن، نجد او بحرین ته یې لاره ومونده. د خلفاء راشدینو په دور کې د وخت دوو سترو استعماري ځواکونو روم او فارس د اسلام په مقابل کې د تسلیمۍ سر ښکته کړ او د اسلام پلوشې د شمال په لور تر روسیې ورسېدې او هم د اسلام د عدل په چاپېریال کې د شام، مصر، رقې او طرابلس ښارونه شامل شول او همدارنګه نورو افریقایي ممالکو ته هم د اسلام مبارک دین رڼاوې ورسېدې. دا ټول پرمختګونه یوازې په (۳۵) کالو کې رامنځته شول او بیا په وروسته د امویانو په دوره کې د اسلام واکمني تر سند، هند، چین او اندلسه پورې ورسېده.

د عباسي خلافت په زمانه کې هارون الرشید وکولی شول، چې د اسلام پلوشې تر ختیځ، لوېدیځ، شمال او جنوب پورې خورې کړي. د هارون الرشید په خلافت کې اسلامي حکومت دومره پراختیا وموندله، چې یوه ورځ هارون الرشید ورېځو ته په خطاب کې وویل چې واوروه! هر چېرته چې دې خوښه شي، خو خراج (ګټه یا حاصل) به دې ماته راځي. دغه ټول بریالیتوبونه یوازې او یوازې د اسلامي عقیدې په برکت رامنځته شوي وو. مسلمانان له هره لحاظه د عزت خاوندان وو، هرې خواته به یې چې مخ واړاوه، نو فتح او بری به ورنصیب کېده. طواغیت (د شیطان ملګري) به یې یو په بل پسې ټکول، رومي او فارسي ښکېلاکونه یې رانسکور کړل، دا هغه زورور خلک وو چې مخکې له اسلامه یې خلکو عبادتونه کول.

همدغه اسلامي عقیده وه، چې د نړۍ بېلابېل اقوام یې د اسلام تر بیرغ لاندې را یوځای کړل او اسلام یې له هر څه غوره وګاڼه او خپل هر څه یې له همدې دین څخه فدا کړل او د اتحاد په یوه صف کې ودرېدل. د همدې عقیدې لپاره یې کار کاوه او د همدې عقیدې لپاره یې خپل ځانونه او مالونه د الله تعالی د رضا او د جنت په بدل کې خرڅول، چې الله تعالی هم په اسلام سره سرلوړي کړل او دوی سره یې ښکلې سودا وکړه.

همدغه عقیده وه، چې کله (عقبة بن نافع) د لوېدیځ تر وروستیو پولو ورسېد او د اطلس سمندر پر غاړه ودرېد او خپله هغه مشهوره او تلپاتې خبره یې وکړه چې: اې الله! د محمد صلی الله علیه وسلم ربه! که چېرې دغه سمندر نه وای، ستا د کلیمې د اوچتولو په لاره کې به مې دنیا فتح کړې وای. اې الله! ته شاهد اوسه.

همدغه اسلامي عقیده وه، چې (قتیبه باهلي) د ختیځ تر وروستیو پولو ورسېد او راونه ګرځېد، تر هغه چې د چین ښاریو ته ننووت، د خپلو ملګرو له جملې یو تن د زړه سوي له مخې ورته وویل: اې قتیبه! ته د ترکانو ښاریو ته ننوتې یې، د هر ځای حوادث مختلف وي، نو لږ متوجه اوسه. قتیبه خپل هغه مشفق او زړه سواند ملګري ته وویل: د الله تعالی په نصرت کاملاً عقیده او ایمان لرم او د هماغه توکل پر بناء مې په دې خاوره کې قدم ایښی، که مې ژوند تمام شوی وي، نو بیا تیاری او احتیاط راته څه ګټه نه شي رسولی، نو زړه سواند ملګري یې ورته وویل چې بیا خو ورځه! دا هغه عقیده ده چې هېڅوک پکې خلل نه شي اچولی، مګر یوازې الله تعالی. همدغه اسلامي عقیده وه، چې د اسلامي تمدن بنسټ یې کېښود او مسلمانان یې د یوه بیرغ تر چتر لاندې سره راټول کړل او د یوه قرآن په ژبه یې سره اتفاق وکړ او د اسلام د ترویج او تعمیم لپاره یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې. دا هغه څه دي چې د نړۍ لر او بر هېڅوک ترې انکار نه شي کولی.

د نشنلیزم اړوند نور معلومات بله لیکنه کې...

له خصوصي سکټور سره...

هغه وايي: «د افغان طیور، د بغلان د بورې، د کندهار، بلخ او پلخمري د نساجۍ او د هلمند د بُست شرکتونو د بیا فعالولو ترڅنګ، د غوري سمنټو فابریکو د تولیدي ظرفیت د لوړولو چارې هم پر مخ روانې دي.»

د نوموړي په وینا: «د درملو د تولید لپاره د پرمختللو ماشین‌آلاتو پېرل، د مسلخ امارتي شرکت لپاره د لبنیاتو د پروسس د عصري تجهیزاتو برابرول، د کابل د مرکزي سیلو د ژرندې (میل) بیا فعالول او د بلخ د جنوپرس امارتي شرکت لپاره د نوې ټکنالوژۍ چمتو کول هم په جدي توګه تر کار لاندې دي.»

د ده په خبره، یاد تولیدي واحدونه به په نږدې راتلونکي کې په عصري ماشینرۍ سمبال او د هېوادوالو خدمت ته به وړاندې شي. د ښاغلي بهار په وینا: «د عامه او خصوصي مشارکت له لارې د ۱۳۰۰ میګاواټه سولري، بادي او حرارتي برېښنا د تولید قراردادونه هم لاسلیک شوي، چې د هېواد د صنعتي ځانبسیاینې او د فابریکو د دوامدار فعالیت لپاره مهم ګام بلل کېږي او د کورنۍ انرژۍ د تولید په برخه کې د هېواد له سترو پروژو څخه شمېرل کېږي.» نوموړی زیاتوي: «اقتصادي متخصصینو د برېښنا د تولید، کرنې او مالدارۍ، خدماتو، تولیداتو او اضافي جایدادونو په برخو کې پراخې څېړنې ترسره کړې، چې په پایله کې له ۲۰۰ ډېر د پانګونې فرصتونه تشخیص، مستند او له کورنیو او بهرنیو پانګوالو سره د شریکولو لپاره چمتو شوي دي.» نوموړی ټینګار کوي، د ښه او اغېزمن مدیریت او د تولیدي ظرفیتونو د لوړولو په پایله کې د یاد ریاست تر چتر لاندې د ټولو امارتي شرکتونو عواید د پام وړ زیات شوي، چې د هېواد د ملي اقتصاد د پیاوړتیا، اقتصادي ودې او ثبات په برخه کې به مهم رول ولوبوي.

د کابل ښار یو تن اوسېدونک، حسین احمد شریعت ورځپاڼې ته ویلي: که دغه پروژې په ټاکلي وخت عملي او تولیدي پړاو ته ورسېږي، نو د هېواد د اقتصاد لپاره به مهم پرمختګ وي.

د نوموړي په وینا: «د فابریکو بیا فعالول، د برېښنا تولید او د کرنې او مالدارۍ په برخه کې پانګونه کولی شي د کارموندنې فرصتونه زیات او پر وارداتو د هېواد تکیه راکمه کړي.

نوموړی ټینګار کوي: زموږ هیله دا ده چې د دغو پروژو ګټې عملي بڼه خپله کړي او د خلکو په ژوند کې مثبت بدلون راولي.» د کابل ښار یو بل اوسېدونکی استاد عبدالرشید مراد وايي: «د خصوصي سکټور او امارتي شرکتونو ترمنځ همکاري د اقتصادي ودې لپاره مهمه ده.» نوموړی زیاتوي: «که د نساجۍ، سمنټو، بورې او نورو تولیدي فابریکو د عصري کولو چارې بشپړې شي، نو کورني تولیدات به پیاوړي او د ځوانانو لپاره به د کار زمینه برابره شي.» نوموړی ټینګار کوي، اړینه ده چې د دغو پروژو د تطبیق بهیر په شفاف ډول پر مخ ولاړ شي، ترڅو هېواد له اقتصادي ګټو څخه په بشپړه توګه برخمن شي. **حضرت بلال صافی**

افغان اعلانات

اعلان داوطلبی

موضوع:اعلان سرمایه گذاری بالای موازی سه جریب زمین واقع ولسوالی امام صاحب مقابل کلوپ شاروالی ولایت کندز .
جمعیت هلال احمر افغانی جهت سرمایه گذاری بالای موازی سه جریب زمین واقع ولسوالی امام صاحب مقابل کلوپ شاروالی ولایت کندز را به شکل سرمایه گذاری (پروپوزل گشایی) و مزایده بالای کرایه دهی زمین برای مدت ۱۵ سال به داوطلبی میسپارد. از تمام شرکت های که خواهان سرمایه گذاری بالای زمین متذکره باشند، جهت قرارداد مطابق شرطنامه درخواست های خویش را به آمریت قراردادها جمعیت هلال احمر افغانی واقع ناحیه پنجم، افشار سیلو دفترمرکزی سره میاشت بسپارند، خودشان بعد از نشر اعلان الی مدت (۲۱) یوم به مجلس داوطلبی مراجعه نموده و پول حق الاشتراک مبلغ (۱۰۰۰) افغانی نقداً اخذ می‌گردد.

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به اطلاع عموم داوطلبان رسانیده میشود که وزارت شهرسازی ومسکن در نظر دارد تا پروژه تهیه و تدارک (٤٨) قلم وسایل ایرکندیشن برای سال مالی ١٤٠٥ دارای کود تدارکاتی MUDH/1405/NCB/W-1763 را به شرکت خدمات لوژستیکی کابل رنر دارای جواز نمبر D-٤١١٥١ به قیمت مجموعی ٧٣٥,٩٩٦ (هفتصد و سی و پنج هزار و نهصد و نود شش) افغانی اعطاء نماید.
بنآ اشخاص حقیقی وحکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی پنج(٥) روزکاری طور کتبی توام با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت شهر سازی و مسکن واقع مکروریان سوم، ارایه نمایند.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

بدینوسیله به تأسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، وزارت ارشاد، حج و اوقاف در نظر دارد تا پروژه اعمار یک محراب مسجد شریف در اداره محترم تعلیمات تخنیکی و مسلکی .
خویش را به شرکت ساختمانی و سرکسازی پیشگامان فردا دارنده جواز نمبر (۹۷۱۰۵) مقابل سلیمان مارکیت مرکز سمنگان ایبک سمنگان. به قیمت مجموعی مبلغ (۵۷۰۲۱۰۹) پنج میلیون و هفت صد و دو هزار و یک صد و نه افغانی اعطاء نماید.
اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به ریاست تدارکات وزارت ارشاد، حج و اوقاف وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمایند.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

اطلاعیه به اجاره گیری

اسامی عبدالاحمد فرزند عبدالوکیل دارنده جواز صنفی 217396-D2 شاروالی کابل میخواهد دو باب اطاق منزل اول آسیاب نمبر دوم ملکیت ریاست شرکت امارتی سیلو مرکز را که به مساحت ۶۲ متر مربع می باشد به مبلغ (۱۶۰۰۰) افغانی برای مدت سه سال به اجاره بگیرد.
اشخاص، ادارات امارتی موسسات و سکتورهای خصوصی که خواهش کرایه گرفتن آنرا بالاتر از مبلغ متذکره داشته باشند درخواست های خویش را از نشر اعلان به مدت ۲۱ روز به مدیریت تهیه و تدارکات شرکت سیلو بسپارند. شرطنامه را اخذ و خود شان به تاریخ ۱۴۰۵/۵/۱۳ در مجلس داوطلبی (مزایده) حاضر گردند. تضمین مبلغ ۵۰۰۰۰ افغانی نقدا اخذ میگردد.۳۵۳۱

***

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

ریاست معارف ولایت پنجشیر از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه قرار داد ۶۰ قلم قرطاسیه باب غیر مطبوع ریاست معارف ولایت پنجشیر اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه را در مقابل ۵۰۰ افغانی از مدیریت عمومی تهیه و تد ارکات ریاست معارف ولایت پنجشیر بدست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون عقود خانه پری نموده و طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ۱۵ روز تقویمی به مدیریت عمومی تهیه و تدارکات ریاست معارف ارایه نمایند آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.۳۵۱۵

***

اطلاعیه مزاییده جایداد

حسب هدایت قرار قضایی نمبر (۳۸۷) مورخ (۱۴۴۶/۷/۱۰) ریاست محترم محکمه ابتداییه زون دوم ولایت کابل هیئت تطبیق حکم یک قطعه زمین که به مساحت (5.99) پنج اعشاریه نود نه جریب ملکیت بنام محمد عارف فرزند محمد عظیم می باشد دارای قباله شرعی نمبر(۹۴۸/۲۳۸) مورخ (۱۳۹۰/۵/۳۰) می باشد به فروش میرسانند.
افراد و اشخاصیکه خواهان خریداری زمین متذکره باشند، سر از تاریخ اعلان می توانند عریضه خویش را الی مدت ده یوم به ریاست محترم حقوق ولایت کابل مدیریت ناحیه دهم تسلیم نموده و شرطنامه را ملاحظه و در داوطلبی اشتراک نمایند. تا کدام اجراات بعدی شرعی و اصولی که در نظر است مرعی گردد.۳۵۱۴

***

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۸۴۸۵۹- ۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالله فرزند محمد زمان بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند.۳۵۱۷

***

اطلاعیه مفقوی

یک جواز شرکت سیاحتی خدمات القادری نمبر ۱۸۹ به اسم الحاج محمد یونس فرزند محمد حسین مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۵۰۶

***

اطلاعیه مفقوی

یک جواز شرکت استخراج پروسس معادن و تجارتی امین بهادرزوی نمبر ۹۳۴۷۸ به اسم امین الله امین فرزند دیندار مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۵۰۸

***

اطلاعیه مفقوی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه دوم واقع بهارستان به اسم محمد عظیم فرزند محمد هاشم مفقودگردیده از اعتبار ساقط است. ۳۵۲۷

د بهرنیو چارو وزیر له ایراني پلاوي سره د کونسلي...

وړاندې کول باید لا اسانه، چټک او د منل شویو معیارونو مطابق وي.
د ایران اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزارت مرستیال، ښاغلي وحید جلال‌زاده هم د دواړو هېوادونو ترمنځ کونسلي همغږي مهمه وبلله او هیله یې څرګنده کړه، چې له افغان لوري سره رواني خبرې به د دواړو هېوادونو د وګړو د کونسلي چارو د لا ښه تنظیم او اسانتیاوو د پراختیا لامل شي.

جلوگیری از ورود یک محموله مواد ساختمانی...

از ارزیابی‌های تخنیکی و انجام آزمایش‌های لازم، با معیارهای ملی کشور مغایر تشخیص داده شد. بر اساس خبرنامه، پس از تثبیت غیرمعیاری بودن این محموله از ورود آن به بازارهای داخلی جلوگیری و محموله به کشور مبداء مسترد شد. این اداره تأکید کرده است که روند کنترول و ارزیابی کیفیت مواد وارداتی در تمامی بنادر کشور به‌گونه منظم و قاطع ادامه خواهد داشت و با هرگونه واردات مواد غیرمعیاری که سلامت شهروندان و کیفیت پروژه‌های ساختمانی را تهدید کند، مطابق قوانین برخورد خواهد شد.

اسلامي امارت د روغتیایي سکتور د پیاوړتیا او ملاتړ...

او د خپلو کورنیو یو شمېر غړي یې له لاسه ورکړي، د ټولنې له ټولو افرادو د ډاکترانو رسالت لوی او ارزښتناک دی، نو لازمه ده، چې د روغتیایي سکتور ټول منسوبین د خپل ظرفیت د لوړولو هڅه وکړي او ځانونه په اړینو مهارتونو سنبال کړي. همدارنګه اداري مرستیال د هېواد ټولو ډاکټرانو او روغتیایي پرسونل ته په خطاب کې وویل: له ناروغانو او پایوازانو سره ښه چلند او په دقیق تشخیص د هغوی درملنه وکړئ. ښاغلي حنفي په پای کې د اسلامي امارت له لوري د روغتیایي سکتور د ملاتړ او پیاوړتیا ډاډ ورکړ او ویې ویل: د اسلامي امارت مسئولین به په دې برخه کې خپلې هڅې دریغ نه کړي.

بسته‌بودن مسیرهای تجارتی...

چالش‌های جدی روبه‌رو ساخته است. بر اساس این گزارش، بسته‌ماندن طولانی‌مدت مسیر های تجارتی پاکستان و افغانستان، یکی از عوامل اصلی کاهش صادرات ام پاکستان بوده است. افغانستان که از بازارهای مهم صادراتی محصولات زراعتی پاکستان به شمار می‌رود، در سال جاری هیچ محموله‌ای از ام پاکستان دریافت نکرده است.
روزنامه «دان» افزوده است که درگیری‌ها در ایران نیز با ایجاد اختلال در مسیرهای حمل‌ونقل دریایی و افزایش هزینه‌های انتقال کالا، صادرات ام پاکستان به کشورهای حوزه خلیج را کاهش داده است. در کنار مشکلات صادراتی، تغییرات اقلیمی نیز فشار زیادی بر تولیدکنندگان وارد کرده است.
افزایش دما، بارندگی‌های نامنظم، طوفان‌های شدید و گسترش آفات نباتی باعث کاهش کیفیت و میزان تولید ام در پاکستان شده است.
پاکستان یکی از تولیدکنندگان مهم ام در جهان به شمار می‌رود و این محصول نقش قابل توجهی در اقتصاد زراعتی و درآمد هزاران باغدار این کشور دارد.

له پاکستان څخه د افغان کډوالو د ډله‌ییزې ایستنې...

لوړ انفلاسیون، بې‌کارۍ، د اسعارو د ارزښت له ټیټېدو او مالي ستونزو سره مخ دی. د دغو ستونزو له امله یې حکومت هڅه کوي د عامه افکارو پام له اصلي اقتصادي ستونزو واړوي او د کډوالو موضوع د داخلي فشارونو د کمولو لپاره وکاروي. په داسې حال کې، چې افغان کډوالو د تېرو څو لسیزو په اوږدو کې د پاکستان په اقتصاد کې د سوداګرۍ، کرنې، صنعت، ټرانسپورټ او ودانیزو چارو په برخو کې د پام وړ ونډه اخیستې او د کار ځواک مهمه برخه یې جوړه کړې ده.
له ټولو مهمه دا چې پاکستان غواړي د افغان کډوالو له موضوع څخه د سیاسي فشار د یوې وسیلې په توګه هم ګټه واخلي، ترڅو د افغانستان پر سر د خپلو ځینو غوښتنو د منلو لپاره فضا رامنځته کړي، خو تېر تاریخ او تجربو ښودلې، چې د بشري موضوعاتو سیاسي کول نه یوازې د دواړو هېوادونو ترمنځ باور ته زیان رسوي، بلکې د سیمې پر ثبات او د میلیونونو انسانانو پر ژوند هم ناوړه اغېزې لرلای شي.
د اسلام مبارک دین د انسان کرامت، عزت او امنیت ته ځانګړې ارزښت ورکړی او د ټولنې هر وګړی یې د خپل انساني مقام له مخې د درناوي وړ بللی دی. په اسلامي لارښوونو کې مهاجر، مسافر او هغه کسان چې د بېلابېلو لاملونو له امله له خپلو کورونو بې‌ځایه کېږي، د ځانګړي شفقت او ملاتړ مستحق ګڼل شوي دي. همدا راز نړیوال بشري اصول او نړیوال حقوقي تړونونه هم ټینګار کوي، چې کډوال باید د سیاسي رقابتونو، امنیتي اختلافونو او اقتصادي ستونزو قرباني نه شي، خو له بده مرغه، په معاصرې نړۍ کې ځینې حکومتونه د خپلو کورنیو ناکامیو د پټولو او یا د سیاسي فشارونو د زیاتولو لپاره د کډوالو له برخلیک څخه د یوې سیاسي وسیلې په توګه استفاده کوي. د پاکستان وروستۍ پرېکړه، چې د افغان کډوالو د ډله‌ییزې ایستنې بهیر یې بې‌ساری چټک کړی، د همدې ډول سیاستونو یوه څرګنده بېلګه بلل کېږي.
افغانستان نن لله الحمد د پخوا په پرتله د امنیت، یووالي او سیاسي ثبات شاهد دی او اسلامي امارت تل ټینګار کړی، چې له ټولو هېوادونو سره د متقابل احترام، نه مداخلې او ښه ګاونډیتوب پر بنسټ اړیکې غواړي. پر همدې اساس تمه کېږي، چې ګاونډي هېوادونه هم د فشار او تورونو پر ځای د تفاهم، همکارۍ او متقابل اعتماد لاره خپله کړي. د سیمې د هېوادونو ګډه ګټه په دې کې نغښتې چې د تقابل پر ځای د تفاهم، د تورونو پر ځای د حقیقت او د فشار پر ځای د متقابل احترام لاره خپله کړي؛ ځکه همدا لاره د ثبات، سوکالۍ او دوامدارې همکارۍ بنسټ جوړولای شي.

د کابل او انقرې ترمنځ...

ظرفیتونه لري او د ترکیې له تجربو څخه په دې برخه کې ګټه اخیستلای شي. د ترکیې شارژدافیر هم د ګرځندوی، هوټلدارۍ او بشري ظرفیت لوړونې برخو کې له افغانستان سره د تجربو شریکولو چمتووالی څرګند کړ. دواړو لورو ټینګار وکړ، چې د ګرځندوی او فرهنګي همکاریو پراختیا به د اقتصادي ودې ترڅنګ د دواړو هېوادونو د ولسونو ترمنځ د اړیکو، فرهنګي تبادلو او تاریخي میراثونو د معرفي کولو په برخه کې مهم رول ولوبوي.

د اسلامي او تاریخي...

پنځو کلونو کې د همدې تاریخي جوماتونو د بیارغونې او ترمیم لپاره له ټولو ډېره بودجه د اسلامي امارت له لوري ځانګړې شوې ده.
شیخ مولانا اسلام‌جار هم د هرات د ستر جامع جومات د امناوو د هڅو ستاینه وکړه او ټینګار یې وکړ، چې اسلامي امارت د جوماتونو، په ځانګړي ډول د هرات د ستر جامع جومات خدمت، خپل مهم مسئولیت ګڼي او ژمن دی، چې د دغه ارزښتناک اسلامي او تاریخي میراث د بیارغونې، ترمیم او ساتنې لپاره به ډېره هڅه وکړي.
د هرات والي همداراز د سیمه‌ییزې ادارې او د هرات د ستر جامع جومات د امناوو ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ پر دوام ټینګار وکړ، څو د دغه تاریخي جومات د ساتنې، پراختیا او ښې پالنې لپاره لا اغېزمن ګامونه پورته شي.

حریق ۱۲ تُن مواد خوراکی...

از این نیز از جمع‌آوری و نابودسازی دارو و خوراکی‌های بی‌کیفیت در دیگر ولایت‌ها خبر داده بود. ورود و فروش دارو و مواد خوراکی بی‌کیفیت و غیرمعیاری از چالش‌های جدی در برابر سلامت عمومی شهروندان به شمار می‌رود.

جلال‌اباد کې د کورنیو...

د پیاوړتیا په موخه جوړ شوی دی. د نومورې په وینا، په دغه نندارتون کې د بېلابېلو سکتورونو استازو خپل تولیدات او کرنیز محصولات ننداري ته وړاندې کړي دي.
مسئولینو د کورنیو تولیداتو د کیفیت پر لوړولو ټینګار وکړ او د یاد سکتور په برخه کې یې د هر ډول مرستې ډاډ ورکړ.
د دوی په وینا دغه نندارتون به د چنګاښ له ۲۱مې تر ۲۳مې نېټې پورې دوام وکړي او د کورنیو تولیداتو د ملاتړ ترڅنګ به د پانګونې د جلب او د سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره هم مناسب فرصت برابر کړي.

د لوړو زده کړو وزیر...

دغه راز ښاغلي ندیم ویلي، چې د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته د دیني جامعاتو او تخصصاتو عمومي ریاست د علماء کرامو د اسنادو ارزونې، ازموینو اخیستو او تحصیلي درجو د تثبیت په موخه رامنځته شو. نوموړي زیاته کړې، چې تاسو د علماء کرامو او شیوخو کرامو خدمت کوئ او په اسلامي نظام کې یوه غوره دنده در په غاړې ده. دغه راز کارکوونکي یې په شخصي ژوند کې تقوا، امانتدارۍ، دینداري، عباداتو او په سم ډول د بیت المال کارونې ته وهڅول.
همدارنګه په یاده غونډه کې د دیني جامعاتو او تخصصاتو عمومي ریاست مسئولینو په خپلو خبرو کې ژمنه وکړه او ویې ویل، چې موږ په پوره اخلاص او امانتدارۍ سره د علماء کرامو او ټولو مراجعینو خدمت کوو او څنګه چې د امراءو امر وي اطاعت یې کوو.

اقتصادي معاونیت په ارزګان...

د اسلامي امارت له بودجې څخه ورکول کېږي. په یاد ترمینل کې د موټر چلوونکو لپاره اړینې اسانتیاوې، منظم پارکینګ، د اوبو رسولو شبکه، د برېښنا سیستم، مسجد، د اوداسه ځایونه، رستورانټ، ورکشاپ او ځینې نور اړین تأسیسات په پام کې نیول شوي دي.
په ارزګان کې د باروړونکو موټرو لپاره د معیاري ترمینل د جوړولو چارې به په ۱۲ میاشتو کې بشپړې او لسګونه هېوادوالو ته به په کې د کار زمینه برابره شي.

لیلام ۱۶ میلیون دالر...

مکلف اند تا حسابات شان را الی ختم روز لیلام تصفیه کنند. گفتنیست که در داوطلبی‌های لیلام اسعار تسویه قسمی معاملات مجاز نیست؛ برندگان داوطلبی مکلف اند تا در مدت معینه، پول ذمت خود را یک‌بار به‌گونه‌ای نقد تحویل بانک مرکزی کنند.

۲۴ تاریخي او فرهنګي...

د یاد ریاست مسئولین زیاتوي، چې د دغو اثارو ثبت او خوندي کول د هېواد د تاریخي او فرهنګي میراثونو د ساتنې، مستندولو او راتلونکو نسلونو ته د لېږد په برخه کې مهم ګام ګڼل کېږي.

دښمن د خپلو ادعاوو...

شوی او پلي کول یې د محتسبینو تر څنګ د هر مسلمان شرعي مسئولیت دی. شیخ حنفي زیاته کړې، ځینو استخباراتي او مغرضو کړیو په خپل ټول رسنیز قوت افواهاتو ته مخه کړې او ځینې نړیوال جهتونه د افغانستان په اړه د واقعیتونو د تحریف هڅه کوي، خو د نړۍ په نورو سیمو کې د ښځو او ماشومانو د وژنو او ظلمونو پر وړاندې چوپ پاتې دي.
ښاغلي حنفي د بېلګې په توګه هرات کې هغو ناسمو او بې بنسټه ادعاوو ته چې ګنې امر بالمعروف په دې ولایت کې ښځې وژني او یا یې زندان ته لېږي په اشارې ویلي: دښمن ته یوازې تبلیغات ورپاتې دي او د خپلو ناسمو ادعاوو د ثبوت لپاره هېڅ سند او دلیل نه لري، دوی یوازې په دې هڅه کې دي، چې د خلکو عامه ذهنونه مغشوش او ګونګوسې خپرې کړي.
ده له علماوو، قومي مشرانو او رسنیو وغوښتل، چې د افواهاتو پر وړاندې د حقایقو په خپرولو کې خپل مسئولیت ادا کړي او د اصلاح او دعوت په برخه کې همکاري وکړي. نوموړي ټینګار کړی، چې اسلامي نظام د شریعت د تطبیق، عدالت، د مظلوم د دفاع او د خلکو د دیني او ټولنیزو حقونو د ساتنې لپاره کار کوي.

افزایش چشمگیر حاصلات...

مجموع در ۲۰ هزار هکتار زمین گندم کشت شده و از آن ۵۵ هزار و ۹۲۰ متریک تُن حاصل به‌دست آمده است.
به گفته وی، توزیع تخم‌های اصلاح‌شده و کودهای کیمیاوی، ارائه رهنمودهای تخنیکی به دهقانان و بارندگی‌های به‌موقع، از عوامل عمده افزایش حاصلات گندم در سال جاری به‌شمار می‌روند.

بلخ کې د نفتي توکو...

ډیزلو، موبلایلو او د الوتکو د سون‌توکو ازموینې هم ترسره کېږي. د نفتي توکو سوداګر ویلي: اوس د تېلو د کیفیت ازموینې پایلې د څو ورځو پر ځای په دوو تر درېیو ساعتونو کې ترلاسه کولی شي.

د افغانستان د پانګونې...

معلومات وړاندې کړل او روسي او قزاقستاني پانګوال یې د کانونو، صنعتي تولید او پروسس په برخو کې پانګونې ته وهڅول. هاشمي د دواړو لوریو ترمنځ د سوداګرۍ د پراختیا، سوداګرو ته د ویزو د اسانتیا، د مخامخ سوداګریزو غونډو او د همکاریو د هوکړه‌لیکونو د لاسلیک وړاندیز هم کړی دی. بله خوا، د روسیې د سوداګریز پلاوي استازو ویلي: د افغانستان د پانګونې او سوداګرۍ فرصتونو ته د روسي سوداګرو لېوالتیا زیاته شوې او له سلو څخه زیات روسي سوداګر او پانګوال غواړي افغانستان ته سفر وکړي او له افغان سوداګرو سره د ګډو همکاریو په اړه خبرې وکړي.

تأکید بر توسعه روابط ...

و دیدگاه‌ها به منظور ارتقای روابط بین دو کشور، بحث و تبادل نظر کردند. آقای بلوچ بر سیاست امارت اسلامی افغانستان در بخش تعامل سازنده، گسترش روابط متوازن با کشورهای منطقه و جهان، توسعهٔ همکاری‌های اقتصادی و تقویت روابط دوجانبه تأکید کرد.
در پایان، دو طرف بر ادامهٔ گفتگوهای سازنده، حفظ ارتباطات نزدیک و گسترش همکاری‌ها در بخش‌های مختلف تأکید نمودند.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly , Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: محمدیوسف حیدري / ۰۷۹۴۹۸۹۶۹۸
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Tuesday 14 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1106

اسلامي امارت د روغتیايي سکټور د پیاوړتیا او ملاتړ ډاډ تازه کړ

د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي په روغتیايي سکټور کې د ظرفیت لوړولو تر سرلیک لاندې سیمینار په اختتامیه مراسمو کې چې د کورنیو چارو وزارت د روغتیايي خدماتو د عمومي ریاست له لوري په شرطه درې سوه بستریز روغتون کې جوړ شوی وو، ګډون او وینا وکړه. په دې مراسمو کې چې د بېلابېلو ادارو استازو او د یاد ریاست ولایتي مسئولینو هم حضور درلود، د ریاست الوزراء اداري مرستیال د روغتیايي سکټور ډاکتران او منسوبین د ټولنې واقعي خدمتګاران او د افغانانو ویاړ وبلل. نوموړي زیاته کړه: په هېواد کې د نیمې پېړۍ تحمیلي جګړو زیات زیانونه اړولي او د ملت هر وګړی یې زیانمن کړی... ۳مخ

د اسلامي امارت استازو د قطر د پخواني امیر د جنازې مراسمو کې ګډون وکړ

په قطر کې د افغانستان د اسلامي امارت سفیر محمد سهیل شاهین او د سفارت نظامي اتشې حافظ احسان الله انس د قطر د پخواني امیر، شیخ حمد بن خلیفه آل ثاني، د جنازې په رسمي مراسمو کې ګډون وکړ او د افغانستان اسلامي امارت په استازیتوب یې د قطر حکومت او ولس ته د ژورې خواخوږۍ مراتب وړاندې کړل. په دغو مراسمو کې د بېلابېلو هېوادونو سفیرانو، لوړپوړو دولتي او ډیپلوماتیکو استازو، مخورو شخصیتونو، دیني عالمانو، د نړیوالو او کورنیو بنسټونو استازو او د نړیوالو رسنیو خبریالانو ګډون وکړ او د قطر له دولت او ولس سره یې خواخوږي څرګنده کړه.

د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزیر:

دښمن د خپلو ادعاوو د ثبوت لپاره هېڅ اسناد او دلایل نه لري

د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزیر شیخ محمد خالد حنفي ویلي، چې منبر د دعوت او اصلاح سنګر دی او دیني عالمان مسئولیت لري، څو د خلکو د لارښوونې او ټولنیزې اصلاح لپاره ترې اغېزمنه استفاده وکړي. نوموړي په هرات ولایت کې د لوېدیځ زون له علماوو، قومي مشرانو او د رسنیو له مسئولینو سره په لیدنه کې ویلي، چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر قانون د شریعت له اصولو څخه اخیستل... ۳مخ

لیلام ۱۶ میلیون دالر از سوی بانک مرکزی

بانک مرکزی افغانستان امروز ۱۶ میلیون دالر را طی داوطلبی به‌گونه‌ای لیلام به فروش می‌رساند. این بانک از تمامی شرکت‌های صرافی، بانک‌های خصوصی و نهادهای ارایه خدمات پولی واجد شرایط می‌خواهد تا در این مزایده اشتراک کنند. به گفته بانک مرکزی، برندګان لیلام ... ص ۳



د هرات والي:

د اسلامي او تاریخي میراثونو ساتنه دې لا پیاوړې شي

د هرات والي شیخ مولانا اسلام‌جار د هرات د ستر جامع جومات د امناوو پلاوي او د دې جومات له خطیب سره وکتل او د دغې ارزښتناکې تاریخي او اسلامي ودانۍ د بیارغونې، ترمیم او ساتنې د بهیر په اړه یې خبرې وکړې. په دې لیدنه کې د هرات د ستر جامع جومات د امناوو پلاوي د اسلامي امارت د سیمه‌ییزې اداري له ځانګړې پاملرنې څخه مننه وکړه او ویې ویل، چې په تېرو... ۳مخ

د کابل او انقرې ترمنځ د فرهنګي او سیاحتي همکاریو پر لارو چارو بحث وشو

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ګرځندوی، مالي او اداري چارو معین مولوي قدرت‌الله جمال په کابل کې د ترکیې له شارژدافیر سادین آیبلدیز سره په لیدنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګرځندوی، فرهنګي همکاریو او تاریخي اړیکو د لا پراختیا په اړه خبرې وکړې. په دې لیدنه کې د افغانستان او ترکیې د تاریخي، فرهنګي او مذهبي اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار وشو او د ترکیې له لوري د افغانستان په فرهنګي او تعلیمي برخو کې شوې همکارۍ وستایل شوې. دواړو لورو د تاریخي میراثونو د ساتنې، د ګرځندوی د ودې، د تجربو شریکولو، د سیلانیانو د تګ راتګ د اسانتیاوو او د روزنیزو پروګرامونو د پراختیا په اړه د ګډو همکاریو پر لارو چارو بحث وکړ. شاغلي جمال زیاته کړې: افغانستان د تاریخي، فرهنګي او مذهبي ګرځندوی له پلوه پراخ... ۳مخ

د امارتي شرکتونو اداره:

له خصوصي سکټور سره ګډې پروژې د عملي کېدو پړاو ته نږدې شوې دي

شریعت: د امارتي شرکتونو اداري مسئولین وایي: د تېر کال په ترڅ کې له خصوصي سکټور سره د ۷۴ میلیاردو افغانیو په ارزښت د برېښنا د تولید، خدماتو، کرنې او مالدارۍ، د اضافي جایدادونو د اقتصادي کارونې او د کانونو د استخراج په برخو کې ګډې پروژې لاسلیک، عملي او د تولید پړاو ته نږدې شوې دي.

د امارتي شرکتونو اداري د نشراتو او عامه اړیکو آمر او ویاند، مولوي محمد نبي بهار، شریعت ورځپاڼې ته ویلي: د سترو فابریکو او تولیدي کرښو بیا فعالول او عصري کول د یاد ریاست له مهمو لاسته راوړنو څخه دي. ۲مخ

جلوګیری از ورود یک محموله مواد ساختمانی غیرمعیاری به کشور

اداره معیار و کیفیت در ادامه نظارت بر کیفیت اموال وارداتی از ورود یک محموله مواد ساختمانی غیرمعیاری از طریق بندر شیخ ابونصر فراهی جلوګیری کرده و آن را به کشور مبداء بازگرداند. دفتر مطبوعاتی اداره معیار و کیفیت گفته است که این محموله شامل آهن نبشی و ناودانی به وزن ۲۵.۱۳۰ تُن بود که پس... ص ۳

۲۴ تاریخي او فرهنګي اثار د لغمان موزیم ته وسپارل شول

د لغمان د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د فرهنګي میراثونو د ساتنې عمومي مدیر محمد نادر مخور خبر ورکړی، چې تازه ۲۴ قلمه تاریخي او فرهنګي اثار د یاد ریاست په موزیم کې ثبت او د فرهنګي او هنري اثارو په رسمي لیست کې شامل شول.
د نوموړي په خبره، یاد اثار د ساتنې او نندارې لپاره د لغمان په موزیم کې ځای پر ځای شول. ۳مخ

۶ فلسطینی در حملات تازه رژیم اسرائیل برغزه شهید شدند

مقام‌های صحی فلسطین اعلام کرده که در تازه‌ترین حمله‌های اسرائیل بر بخش‌هایی از نوار غزه شش تن، از جمله یک دختر نُه‌ساله جان باخته اند. خبرگزاری رویترز گزارش داده که در تیراندازی نیروهای اسرائیلی به سوی اردوگاه پناهندگان «البریج» در مرکز غزه، یک دختر نُه‌ساله کشته شده است. به گفته مقام‌های صحی فلسطین، در حمله هوایی دیگری بر یک کارگاه فلزکاری در شهر غزه نیز چهار تن جان باخته اند. همچنان در حمله جداگانه به اردوگاهی در منطقه «المواصی» در خان‌یونس، یک تن کشته و چندین تن دیگر، از جمله کودکان زخمی شده اند.

هند له امریکا سره د چټکې سوداګریزې هوکړې وړاندیز رد کړ

هند له امریکا سره د وروستیو سوداګریزو خبرو پر مهال د چټکې سوداګریزې هوکړې وړاندیز رد کړی او هڅه کوي، چې د خپلو ملي ګټو لپاره غوره شرایط ترلاسه کړي. د رویټرز د راپور له مخې، د هند حکومت د نویو سوداګریزو شریکانو، د اقتصادي خطرونو د کمېدو او د کورنیو سیاسي لاسته راوړنو له امله په خپلو دریځونو کې ډاډمن شوی او غواړي له واشنګټن سره په لا غوره شرایطو هوکړه وکړي. امریکا او هند له څو میاشتو راهیسې د سوداګرۍ د پراخولو او د تعرفو د کمولو په اړه خبرې کوي، خو بازار ته د لاسرسي او د کرنیزو توکو او ګمرکي تعرفو پر سر د دواړو هېوادونو ترمنځ لا هم مهم اختلافات شتون لري.

ایران پایگاه‌های هوایی امریکا در کویت را هدف قرار داد

ایران اعلام کرده که در ادامه عملیات تلافی جویانه خود، پایگاه هوایی «شاهزاده حسن» در اردن و پایگاه «شیخ عیسی» در بحرین را با موشک‌ها و طیاره‌های بی‌سرنشین هدف قرار داده است. این کشور مدعی شده که در این حملات تأسیسات سوخت، انبارهای مهمات، مراکز قوماندانی و برخی تجهیزات نظامی امریکا آسیب دیده‌اند. در همین حال، قوماندانی مرکزی امریکا (سنتکام) اعلام کرده که ده‌ها هدف نظامی از جمله سیستم‌های دفاع هوایی، رادارهای ساحلی، توانمندی‌های موشکی و هوایی و شناورهای نظامی ایران را هدف قرار داده است. همزمان رسانه‌های ایرانی از شنیده‌شدن دو انفجار شدید در بندرعباس، مرکز ولایت هرمزگان گزارش داده‌اند.

روسیه: د اوکراین سلګونه ډرونونه مو نسکور کړي

تاس خبري اژانس د روسیې د دفاع وزارت له قوله خبر ورکړی، چې د یاد هېواد هوایي دفاعي سیستمونو د روسیې په بېلابېلو سیمو کې د اوکراین ۳۴۲ بې‌پیلوټه الوتکې (ډرونونه) کشف او له منځه وړي دي. د تاس خبري اژانس د راپور له مخې، د مسکو ښار ته څېرمه د استرا سیمې په پیونرسکي کلي کې د یوه ډرون د لوېدو له امله درې کسان وژل شوي او درې نور ټپیان شوي دي. راپور زیاتوي، چې د سولنیچنوګورسک په سیمه کې هم یو ډرون د استوګنې پر یوه ودانۍ لګېدلی، چې له امله یې دوه کسان ټپیان شوي دي. د روسیې د دفاع وزارت تر اوسه د دغو ادعاوو په اړه نور جزئیات نه دي ورکړي او د اوکراین لوري هم په دې اړه رسمي څرګندونه نه ده کړې.

د اندونیزیا ټرافیکي پېښه کې ۱۳ تنو ژوند بایللی



د اندونیزیا په جاوې ټاپو کې د درېیو باروړونکو موټرو د ټکر له امله ۱۳ تنه مړه او پنځه نور ټپیان شوي دي. پېښه د ایندرامایو ولسوالۍ په یوه ساحلي لویه لاره کې هغه مهال رامنځته شوې، چې د واده مراسمو ته تللي مېلمانه په یوه خلاص باروړونکي موټر کې بېرته کورونو ته روان وو. پولیسو ویلي: د ټکر له امله موټر بلې لارې ته وغورځېد او له یوه بل باروړونکي موټر سره یې هم ټکر وکړ. اندونیزیایي چارواکو ویلي: د پېښې د اصلي لامل د معلومولو لپاره پلټنې روانې دي.